بسمل
۲۰۱۰-۰۴-۱۶

## د افغان زندانیانو دخلاصون لپاره بایرن مېشتو افغانانولاریون وکړ

نن د جرمني په مونشن ښار کې دافغانانو دکولتوري ټولني په نوښت یوسولیز لاریون تنظیم شوی و ځوزموړ دکولتوري ټولني هیوادپال غړي له خپلو غوښتنو سره دایران ترکونسلګري پوري ځانونه ورسوي .
زموږ ملګرو د غرمي په ۱۲بجو (Arabellapark) ته ځانونه راورسول مخکې له دې چې دایران کونسلګري
(Mauerkirch Str.59) ته وخوځیږو.
لمړی ما ؛محمدامین بسمل؛ دیولوملګرو په خوښه افغان سفارت ته چې په برلین کې دی تیلیفوني خبر ورکړسره له دې چې په افغان اداره اوپه ټېره بیابهرنیوسیاسي نماینده ګیوهیڅ حساب نه کووخوبیاموهم دومره خبر ورکړ چې که تاسوزموږ دبیوزلوافغانانو غم نه خوری مونږ خو ترخپله وسه له خپلو افغانانو څخه ملاتړ کوولنده داچې دسفارت سکرټری مېرمن فودول Fodol تیلیفون واخیست ، زموږ دااقدام یې وستایه ډېره هڅه یې وکړه چې دسفارت له مسؤلینوسره ماوصل کړي خو زموږ دسفارت مسؤلین نه پوهیږم په کومه خواري او غریبي ؟؟ لګیا وو ماهم نور وخت نه درلود نو له واره می په برلین کی دایران سفارت ته تیلیفوني خبر ورکړ له هغه څخه وروسته مې دتیلیفون په وسیله په مونشن کی دایران له سرکونسل ښاغلي بازرګاني سره تیلیفوني اړیکه ونیوه هغه ته مې خبرورکړچې موږ در روان اوودادی دری کیلومتري ته در رسیږو ښاغلي بازرګاني په خورا سره سینه وپوښتل چې تاسود څه لپاره راځئ ؟
ما ورته جریان ووېل هغه هم په غور سره زموږ غوښتنو ته غوږ کښېښود، وعده یې وکړه چې ستاسو غوښتني به فوراً دایران دبهرنیو چارو وزارت له خوا دایران ولسمشر ته ورسوو د دی تر څنګ یې له موږ څخه جدي هیله وکړه چې تاسو ترکونسلګري پوري مه راځئ موږ او تاسو ګاوندیان یو دلتـــه مو نور بهرنیان او جرمنیان هم ویني، موږ تاسو ته کلکه وعده درکوو چې ستاسو غوښتني به ورسوو نور نو له موږ څخه غواړئ څه ؟
دښاغلي بازرګاني وعدو، نیک برخورد اونرمي دیپلوماتیکي ژبی موږ وهڅولو چې خپل سولیز لاریون تم او د مونشن ښار مینځ ته را وګرزو ځو زموږ دکولتوري ټولني په مرکز کی خپلي غوښتني په لیکلي ډول سره نورې هم ښې تنظیم او په رسمي توګه یې د ایران کونسلګري او سفارت ته واستوو.

زموږ غوښتني په لاندې ډول دي :
۱ ـ له هرڅه مخکي دافغان زندانیانو داعدام د لړی درول .
۲ ـ له سره دافغان زندانیانو د تحقیقي دوسیو څیړنه .
۳ ـ موږ د رښتیني تحقیق غوښتونکي یو، دجرم داثبات په صورت کی مجرمینوته دمناسبي سزأ پلویان یوخو په هیڅ حال له هغوی څخه د ژوند اخیستل نه شو منلای .
۴ ـ موږ دخپلوافغان زندانیانو د تحقیق په پروسه کی دبی پرې نړیوالو بشري حقونود ډلو، اسلامي هیوادونو دکنفرانس غړو او یو رښتیني افغان کمیسیون ګډون غواړو .
۵ ـ موږ د افغان زندانیانو لپږدول خپل هیواد ته غواړو .

که تاسو زموږ غوښتني ونه منئ اوداعدامونوسلسله همداسي جاري وساتئ ، بیا به دهر ډول ناوړو پایلو
پره پر تاسي وي .

یادونــــــــــــــــــه :

پرون مي دهمدې غمیزې په اړوند دآزادي راديو آزادي په ځپو پروګرام کي هم خپل غږ پورته کړ دا مي دتعجب وړ وګڼل چي په یو جغرافیوي موقعیت کي دمخدره توکو په سرانسانان غرغره کیږي خو دهمدې جغرافیوي موقعیت په ګاونډمانا زموږ(افغانستان)کي دآزادي او دیموکراسي ؟؟ ډندورچیانو ددولت اداره دمخدره توکو دکاراوباریانو په لاس ورکړې، دا پوډري اداره دبن دمحکوم کنفرانس په وسیله په افغان ولس وتپل شوه .

قدرمنو لوستونکو !

که غواړئ زما فریاد په آزادي راديو کي هم واورئ نو دا لاندې پتې ته ورشئ :

http://www.rferl.org/listen/ondemand/bd/af/af-default.asp

هلته په ارشیف کي لمړی داپریل ۱۵مي نېټي ته ورننوزئ بیا د11:30 برخه Listen Now کلیک او د دوهمي برخي په ۳۱،۳۰ تر ۳۴،۵۵ پوري یي واورئ .

| | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| 11:30 | 30 minutes | Listen Now | FTP | Listen Now | FTP | Listen Now | FTP |

په جرمني کي دبایرن مېشتو افغانانو کولتوري ټولـــــــــــــــنه